UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی بیانیه
http://unama.unmissions.org

## د پسرلی بریدونه: ټولی خواوي باید د ملکی تلفاتو څخه مخنیوی وکړي

کابل – د اپریل ۳۰، کال ۲۰۱۱ – د جګړی او تاوتریخوالی د هغه پلان شوی اعلان سره چی په راتلونکو میاشتو کی په افغانستان کی تر سره شوی دی موږ د ملګرو ملتونو په حیث د افغانانو په استازیتوب په ټولو ښکلیو اړخونو باندی غږ کوو چی ټول اړین اقدامات د ملکی وګړو د خوندیتوب لپاره په پام کی ونیسي.

د ملګرو ملتونو مشر په افغانستان کی، ستفن دی میستورا وویل: د جګړی ښکیل اړخونه نباید ملکی وګړی په قصدی توګه تر برید لاندی ونیسی، په قتل یی ورسي او یا یی خپل موخه وګرځوي او یا بی له کوم توپیره هغوي ته ضرر ورسوي. موږ پر ټولو اړخونو باندی غږ کوو چی ټول ممکنه اقدامونه د ملکی وګړو د خوندیتوب لپاره تر سره کړي په ځانګړی ډول په راتلونکو میاشتو کی چی په خواشینی سره په دی میاشتو کی د جګړی د ډیریدو تمه کیږي.

د بشری قانون تر لاندی، ملکی وګړی هر هغه شخص ته وویل کیږی چی په نیغ ډول په شخړو کی ګډون نه کوی. د طالبانو له خوا نن یوه بیانیه صادر شوی ده چی په هغه کی د برید موخي داسی دي: دولتی چارواکی، د کابینی، د پارلمان او د سولی د عالی شورا غړي، د هغه بهرنی او کورنیو شرکتونو مشران چی د افغان حکومت سره کار کوي. ملګری ملتونه پر طالبانو باندی غږ کوي چی د دی بریدونو څخه لاس واخلي په ځانګړي دول په هغه وګړو باندی چی په نیغ یا مستقیم ډول په شخړو کی ګډون نه لري.

د جګړی ښکیل اړخونه ملکف دي چی په ملکی سیمو باندی د بریدونو څخه ډډه وکړي یا پر هغه سیمو باندی کومو کی چی ملکی وګړي غونډیږی لکه دولتی ودانۍ، بازارونه او پارکونو باندی برید تر سره نه شي.

د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو څخه د طالبانو په واسطه د بی توپیره استفادی له امله په ښارونو کی او د هغه تعبیه شویو چاودیدونکو استفاده چی فشاری صفحات لري، دا توکي د پوځی موخو لکه ټانکونو او ملکی موخو لکه سرویسونو یا مینی بسونو تر منځ توپیر نشي کولاي او له امله یی ګڼ شمیر ملکی تلفات رامنځ ته کیږي. ملګړي ملتونه د طالبانو څخه په ټینګار سره غوښتنه کوي چی د پوځی او ملکی موخو تر منځ باید په ټولو وختو کی توپیر وساتي.

په حین حال کی دولت پلوي ځواکونه باید د بشپړه احتیاط څخه د ملکی وګړو د ساتنی لپاره کار واخلی او د ملکی تلفاتو څخه په ځانګړی ډول د دی پسرلی په بریدونو کی مخنیوی وکړي.

هوایی بریدونه د نړیوال پوځی ځواکونو له خوا د ډیرو ملکی تلفاتو لامل ګرځی. ملګړي ملتونه په نړیوالو پوځی ځواکونو باندی غږ کوي چی په جدی ډول بشری قوانین او هغه تکتیکی لارښودني چی هوایی بریدونه تنظیموي پلی کړي.

د شپی له خوا بریدونه د دولت پلوو ځواکونو له خوا د افغانانو په منځ کی د ویری، قهر او کرکی لامل ګرځي. ملګړي ملتونه په ټول اړخونو باندی غږ کوي چی د دی څخه ډاډ ترلاسه کړي چی د شپی له خوا بریدونه د افغانی کلتور او مذهب ته په بشپړه درناوي سره ترسره کیږي او ملکی وګړو ته په هغه کی نقصان په ټیټه کچه شي.

ستفن دی میستورا وویل: د هغوی د دی ځانګړی ګواښ په پام کی نیولو سره، زه پر طالبانو باندی غږ کووم چی خپل پخوانی هوډ او تصمیم پلی کړي چی په هغه کی د ملکی تلفاتو څخه ډډه شوي وه. افغان ملکی وګړو د اوږدی مودی راهیسی

د دی جګړی قيمت ورکړي – د بل هر وخت څخه نن دا بيړنی ده چی ټولی خواوي د دی ځوريدو د مخنيوی لپاره عمل وکړي او دا چی په دی پسرلی کی د ملکی وګړو د خونديتوب لپاره هڅی ډيري شي.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan
Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121
http://unama.unmissions.org

Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.